مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني ۲۰۲۰/۰۲/۲۸

# آدم خان او درخانۍ

دوېمه برخه

## د آدم خان او درخانۍ د مينې پيل:

د آدم خان اود رخانۍ په نکل کې ، چي له سره ترپايه له آب و تابه ډک دی، د هغوی د مينې د پيل کېدلو پېښنه په دومره زياتو رنګونو راغلي ده چي د ټولو نقلول يې د دې مضمون تر حوصلې وتلې کار دی. خو په ټولو کې يوه خبره شريکه ده او هغه دا چي هر رنګ ته يې وکتل سي هغه غير ممکن ښکاري.

په ملی هینداره کی، چي نکل د لومړي سره د فقير په دعا او دم کړيو خرماوو پيل کېږي، او خدای تعالی دوو خانانو ته اولاد ورکوي چي يو يې آدم خان او بله يې درخانۍ ده. او چي نکل لږ انکشاف وکړي نو په مسجد کی د نجونو او هلکانو د مذهبی زده کړو او روزني سره مخامخ کېږو، او د آدم خان او درخانۍ مينه هم په مسجد کی پيل کېږي.

په ملي هينداره کي راغلي دي چي يوه ورځ آدم خان په يوه کتاب کی بند پاته سو او چي هر څه پر ملايانو وګرځېدی چا يې جواب ور پيدا نه کړ. بالاخره يوه چا ورته وويل چي د تاوز خان ملا خورا لوی عالم دی هغه ته ورسه. آدم خان پر خپل مجنون آس سپرېږی، را رهی کېږی او چي کله مسجد ته ورځي هلته درخانۍويني، چي هغه هم پر دغه ملا سبق وايی.

دوی دواړه په مسجد کی پر يوه بل مينېږی او يوه بل ته د نظم په ژبه د مينې اظهار کوی. له دغه ځايه څخه د دواړو ترمنځ د سوځنده مينې غم لړلی او له پېښو ډک داستان پيل کېږی.

د ملي هينداري له متن سره سم، د نکل په سر کی موږ ته ويل سوي دي چي که آدم خان او درخانۍ په يوه ورځ نه وي نو په يوه مياشت کی خو به حتما زېږېدلي وي. ځکه چي يوه ملنګ د آدم خان پلار حسن خان ته بشپړه پخه خرما ور دم کړه او د درخانۍ پلار ته يې نيمه خرما ور دم کړه(ګواکي ملنګ خبر وو چي د تاوز خان به لور پيدا کېږی او يا د ده داسی خوښه وه چي د تاوز خان قسمت په خپل لاس کی واخلي او لور يې په نصيب کړي جهاني)

آدم خان لوييږي او يوه ورځ په کتاب کی د پيدا کړي مشکل د حلولو لپاره پر مجنون آس سپرېږی او له يوې سيمی څخه بلي ته په ملا پسی ځی. داسی يو زلمی بايد لږترلږه تر شلو کالو کم عمر ونه لری. په دې حساب بايد درخانۍ هم د شلو کالو وي.

دا به څرنګه ممکنه وي چي د درخانۍ په شان يوه ښکلي پېغله، چي خلک په يوه ځل ليدلو زړونه وربانډی بايلی، او حتی له ليدلو سره يې بېسده کېږی، هره ورځ کتاب په څنګ کی مسجد ته ولاړه سي او هغه دي هم د تاوز خان غونډي يوه لوی او زورور خان لوری وي. موږ نه په پخواني تاريخ او نه په معاصر وخت کی اورېدلي دي چي د يوه پښتانه خان پېغله ښايسته لور دي په مسجد کی سبق ووايی. حتی د عوامو او نېستمنو خلکو پېغلي لوني هم هيڅ وخت چا په مسجد کي نه دي ليدلي چي د مُلا مخي ته ناستي او سبق دي ولولي؛ هلته دي د يوه نامحرم زلمي سره ودريدلای سی، د خبرو کولو ، د مينی د اظهارولو او حتی د منظوم سوال او جواب کولو فرصت دي ولري. لومړی ځل دُرخانۍ له آدم خان سره د مينې داسي اظهار کوي:

يو زرغون لښتی بهيري
دغه سر يې د آدم پر باغ لګيږی
په کرلي يي لونګ دي
لويه خدايه لا چي هم په زرغونيږی

وروسته آدم خان ښکاره ناره پر وکړه:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

خان یم آدم خان یم
زه پخپله مینه کړم غره په ځان یم
که می مرګ نه سو له میانه
درخانیه زه به زوم د تاوز خان یم
(نوري ۲۴۸-۲۴۹)

په حیات افغانی کی، چي پروفیسر نواز طایر هم استفاده ورڅخه کړې ده ، د صدرخان خټک د منظوم داستان په تعقیب راغلي دي چي د آدم خان تبر د ژمي د تیرولو د پاره ملکنډ ته کو چیدلی وو، او تصادفاً د درخانۍ پلار پیرجوګي خان؟ (چي په اکثرو متونو کي تاوز خان او طاووس خان راغلی دی جهاني) هم دغی سیمی ته موقتاً کو چیدلی وو. آدم خان د خپل آس د نالونو د جوړولو د پاره د باتور آهنګر دوکان ته ورغلی وو او درخانی هم د وربشلو د ځرخي د میلي د جوړولو یا تیره کولو د پاره هغه دوکان ته ورغلي وه. د دواړو سترګي سره ولګیدې او سره مینان سول.

محمد حیات خان وایی د باتور آهنګر د دوکان پر ځای باندی یوه ونه شنه سوې ده او تر اوسه پوري ولاړه ده . هغه لویه هواره ډبره اوس هم سته چي درخانی به پر هغي باندی وربشل کول او د هغه ځای نښي اوس هم سته چي ویل کیږی د درخانی کلی ورته را کو چیدلی وو. (حیات افغاني ص ۲۳۲)

ګواکي محمد حیات خان هم ، د یوه پوه لیکوال او مورخ په حیث، په دې عقیده دی چي دا کیسه ریښتیا پیښه سوې او نښي یې تر اوسه موجودي دي. بل روایت وایی چي آدم خان د آهنګر د دوکان سره نیژدې رباب واهه او ډېر زیات خلک د هغه د نغمو د اوریدلو د پاره را غونډ سوي وه. په دغه وخت کی درخانی د وربشلو د ځرخي د میلي د تېره کولو د پاره راوتلي وه. دا هم په هغو کسانو کی ودریده چي د آدم خان رباب ته یې غوږ نیولی وو. په دغه وخت کی د دواړو سترګي سره ولګیدې او یو پر بل مینان سول. زینب ص ص(۱۱۷-۱۱۸)

په دې روایت کي لا په زړه پوري خبره دا ده چي وایی آدم خان دوه ملګري درلودل چي یو یې میرو او بل یې بلو نومېدی. هغوی دواړو هر وخت په موسیقي کي د آدم خان د مهارت ستاینه کوله؛ په تېره بیا میرو چي پخپله یې هم رباب واهه. د آدم خان پلار حسن خان هغوی دواړو ته وظیفه ورکړه چي د دُرخانی کور پیدا کړي او پلار ته یې ووایی چي حسن خان ستا لور، د خپل زوی لپاره، غواړي.

دواړه را رهي سول. د دُرخانی د پلار کور یې پیدا کړ او هغه ته یې وویل چي موږ د آدم خان پلار ستا د لور لپاره په مرکه رالیږلي یو. خو د دُرخانی پلار طاووس خان د هغوی ښه میلمه پالنه وکړه او په ډېر ادب یې ورته وویل چي له بده مرغه ده خپله لور د پایاو خان په نوم یوه شته من سړي ته ورکړې ده. (هغه کتاب ص ۱۱۹)

څوک چي د پښتنو، په تېره بیا یوسفزیو، له کلتور سره لږ بلدیت ولري دا به ځرنګه ومني چي د آدم خان دوه دوستان، چي په زیاترو نکلونو کي هغوی د آدم خان مریان بلل سوي او په ډېرو نکلونو کي میرو ته میرو قوال وایي، د آدم خان په مرکه رهي سي او هغه دي هم د یوه بل مشهور خان طاووس خان کورته ورسي او طاووس خان دي هغوی په ادب رخصت کړي او د ځان لپاره دي دا سپکاوی په ورین تندي ومني؟ دا به ځرنګه ممکنه وي چي د آدم خان پلار دي، د پښتنو او سیمي د تولو اوسېدونکو قومونو د رواج او معمول په خلاف، د خپل یوه سیال قومي خان کورته، د هغه د ګراني لور د غوښتلو د مرکي لپاره، خپل دوه نوکران ولیږي او په دې دي نه پوهیږي چي دا د نوکرانو او یا لږترلږه نارینه ځوانانو کار نه بلکه د سپین ږیرو مشرانو او د کور د سپین سرو او مشرانو ښځو کار دی.

دغه راز به دا ځرنګه ممکنه وي چي د حسن خان مټه خیل په ځیر یوه لوی پښتنون خان زوی په یوه پردي کلي کی رباب وهي او خلک ورته را غونډ سوي دي او د هغه خوږو نغمو ته یې غوږ نیولی دی. دا خبره بیخی له امکانه لیري ده. آدم خان یوازي هغه وخت دا کار کولای سوای چي له خپل ټول تبر سره یې اړیکی شلولي وای. حسن خان دا نه سوای منلای چي د ده زوی ته دي یو څوک د ډم په سترګه وګوری ځکه چي رباب ږغول یوازي د ډمانو کار وو.

زما پخپله په یاد دي چي د شلمی پیړۍ په وروستیو کلونو کی زه په پیښور کی مهاجر وم . د مومندو قبیلي د خلیلو د نوابانو د کورنی یوه غړي به کله کله د یارانو په مجلسونو کی رباب واهه. ښایی ښه رباب به یې واهه او ډېرو خلکو به مزې ورڅخه اخیستي وي ، مګر هغه په ټول پیښور کی په ډم نواب مشهور وو او هیڅا د یوه اصلي او جدي نواب په سترګه ځکه نه ورکتل چي کله کله به یې د خپلو یارانو مجلس په رباب تود کړی وو. په داسي حال کي چي نواب نه د رباب ږغولو په بدل کي هیڅ وخت پیسي اخیستي وې او نه یې اړتیا ورته درلوده.

تر دې چي را تیر سو دا به ځرنګه ممکنه وي چي د طاووس خان په ځیر یوه لوی قومی مشر ښکلي لور دي، چي په یوه ځل لیدلو زړونه وړي ، بازار ته لوخ مخ را ووزی او د خلکو په منځ کی دي ولاړه وي او رباب ته دي غوږ ونیسی. او هغه لا هم په داسی حال کی چي د پایاو خان په ځیر یوه لوی خان، چي ځانته لښکر لري، په نامه وي. او د دې ترځنګ دا غیر ممکنه خبره لولو چي وایی درخانی د وربشلو د ځرخي د میلي په تیره کولو پسی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

را وتلي وه او ګواکي هغه لویه ډېره لا اوس هم سته چې دې به وریښل وربانده کول. د یوسفزیو د قومی خان لور هیڅ وخت د وریښلو څرخي ته لاس نه ور وړی ځکه چې دا د ټولني د تر ټولو ټیټی طبقي جولاګانو کار دی.
د ننګرهار نکلونه په کتاب کی راغلي دي چې آدم خان د بسوګی په واده کی د ښځو په منځ کی رباب وهي او بلو او میرو هم سندري ورسره وایی او ښځی ستر نه ورڅخه کوی. بالاخره آدم خان متوجه کیږی چې د کوټي په دروازه کی یوه دنګه نجلی ولاړه ده او مخ یې په شالونو کی پټ کړی دی. آدم خان وایی چې دغه نجلی راته ونه نځیږی زه به رباب ته ګوتي ورنه وړم. بالاخره درخانی ورته ناځي، شالونه له مخي لیری کوي او آدم خان چې یې مخ ګوري داسی وربانذی مین کیږی چې بیهوښه پرېوزی. خاوري (ص ۴۰)
د آدم خان او درخانی مینه له دغه ځایه څخه پیل کېږی او داستان دوام لری خو پر بیلو لارو بیخی بیل منزل ته رسیږی.
آدم خان د ښځو په منځ کی رباب وهي. دا د حسن خان متې خیل د زوی د پاره غیر ممکنه ده چې لومړی خو رباب ته ګوتي وروړي او بیا نو رباب د ښځو په منځ کی ووهي او پیغلي ورته وناځی. ښځو له آدم خان څخه ستر نه کاوه . د دې معنی دا ده چې ښځو آدم خان ته نه د سیال او نه د نارینه په سترګه کتل. بلکه د یوه ډېر ناسیاله ډم په سترګه یې ورته کتل او په دې صورت کی د هغه لپاره دا غیر ممکنه وه چې د طاووس خان لورته ، چې هغه هم د سرور خان د زوی پایاوخان په نامه وي، تر سترګو پاس وګوري. پر هغي باندی د مین کیدلو او دهغي د غوښتلو خبره خو لا بیخی بله او غیر ممکنه مسله ده.

## د پایاو خان له کوره د درخانی تښتول:

د آدم خان نکل چې په هر ځای کي راغلی دی، موږ ته وایی چې آدم خان بالاخره درخانی وتښتوله او د ځینو په قول د خپل ماما، د ځینو په قول خپل خسر، یعنی د لومړی میرمني تونیا د پلار او د ځینو په قول د یوه زورور خان میرمامي کورته یې بوتله. که څه هم چې د نکل تقریباً ټول ډولونه موږته وایي چې د آدم خان او درخانی پلرونو، چې دواړه یوسفزي ول، په یوه سیمه کي، له یوه بل څخه لیري ژوند کاوه خو دا به څوک ومني چې آدم خان د خپل ژوند دونه قیمتي غنیمت د خپل ماما، یا خسر او یا کوم بل پېښتانه په کور کي پرېږدي او دونه لوی خطر دي پر ځان ومني چې بالاخره د ده او د ده د محبوبا په مرګ تمام سو. شیرینه خو لادا ده چې د آدم خان د نکل په ځینو ډولونو کي راغلي دي چې آدم خان د میرمامي له کوره ښکار ته روان سو او د ښکار په ځای کي خبر سو چې پایاو د ده محبوبا د میر مامي له کوره ښولي ده.
که د نکل دې برخي ته یوازې د فولکوري کیسي په سترګه وګورو نو په فوکلوري کیسو کي زیاتره د هر څه پېښېدل ممکن وي خو که چېري پروفیسر نواز طایر، په دې پېښه کي، د پیرمامي یا پیر مایي، یا میرمامي د پیسو حرص، کمزوري شخصیت او رشوت اخیستلو موضوع ته په جدي سترګه ګوري نو سري مجبورېږي چې په نکل کي دې پیښي ته سمه توجه وکړي چې په نتیجه کي متوجه کیږي چې دا پېښه اصلا غیر ممکنه ده.
میرمامي، یا د پایاو خان له وېري او یا د پایاو خان د سلو روپیو رشوت په بدل کي، درخانی بیرته پایاو خان ته وسپارله او آدم خان هم د پایاو خان سره د جنګ میدان ته حاضر سو. ملی هینداره وایی چې آدم خان په هغه جنګ کی سخت ټپی سو او د هغو زخمونو د لاسه مړ سو. کله چې درخانی خبره سوله نو هغي هم د آدم خان پر قبر ساه ورکړه او مړه سوه. (نوري۲۸۵-۲۸۸)
محمدحیات خان، چې د آدم خان او دُرخانی افساني ته د یوی ریښتوني تاریخي کیسي په سترګه ګوري، وایي چې دُرخانی د آدم خان په انتظار شپي ورځي تېرولي او خوب خوراک یې پر ځان حرام کړی وو. یوه ورځ یې د آدم خان د رباب ږغ تر غوږ سو او کله چې یې د باغچې خواته وکتل نو میرو یې ولید چې د آدم خان رباب یې ږغاوه. هغه درخانی ته د ادم خان د مړیني کیسه وکړه او درخانی له غم او غوسي څخه وریسي مړه سوه. محمد حیات خان وایي په اولسي خلکو کي داسي آوازه ده چې دوی دواړه په یوه قبر کي پراته دي. دی وایي دا خبره یو څه نا ممکنه ښکاري خو کېدای سي چې د هغوی کوم همراز دي هغوی په پټه په یوه قبر کي یو ځای سره ښخ کړي وي. دی وایی یو روایت دا دی چې هر څوک د هغه پر قبر باندي د ولاړي ونی له یوه لرګي څخه د رباب شهباز جوړ کړي نو ښه رباب یې زده کیږي. (هغه کتاب ص ۱۳۳)
پروفیسر نوازطایر ، چې خپل کتاب یې زیاتره د صدرخان ختک د منظومي په اساس ترتیب کړی دی وایی چې آدم خان د درخانی د لاسه ورکولو له پیښی سره د ژوند څخه ډېر نا امیده سو ، او خپله خاني او ژوند یې پرېښود او د هندوستان پر لور روان سو. هغه په لاره کی رنځور سو او کله چې د ختکو په علاقه کی د مصری بانډې کلي ته ورسیدی نو د فراق د غمونو د لاسه مړ سو. (طایرص ۲)
په هغه نکل کی چې د ننګرهار نکلونه په کتاب کی راغلی دی موږ ګورو چې، د آدم خان د نکلونود نورو زیاترو ډولونو په خلاف، آدم خان د پایاوخان له کوره درخانی په زور بیائی او خپل کور ته یې رسوي ، نکاح وربانذی تړي او په آرامه ژوند تیروی. خاوري ص ۵۲


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

د آدم خان او درخانی په ارتباط چې په هره سیمه کی نکل انکشاف کړی او د هغی سیمی نقش یي خوړلی دی په ټولو کی دا یوه خبره شریکه ده چې آدم خان د شپې په پټه د درخانی کورته ورځي او شپې د هغي پر پالنګ تیروی.

دا خدمت زما پرځان دی
نن شاهی آدم زما کره مهمان دی
اوس به زه ورلره څمه
سپینه خوله یي میلمستیا ځای یي دالان دی

او یا دا چې
ای زموږ چرګه کولنګه
ستا په ستوني کی دي خوږ سی ای بدرنګه
سبا نه وو تا سباکی
دا شاهی آدم دي کوز کی له پلنګه
نوري ص ۲۷۲

د ټولو رسمونو او پښتني دودونو په خلاف، پاپاو خان په دې پټو غیر مشروع اړیکو خبریږی او پر خپل ناموس او غیرت باندي سترګي پټوي؛ دا د نه منلو تېری پر ځاندي مني او بیا هم د درخانی له پلار څخه هیله کوی چې هغه ژر ورته واده کړی. د درخانی په غوښتنه لا واده لس ورځي ځنډول کیږی او آدم خان د واده په شپه درخانی تښتوي.
د پښتنو او د سیمي د ټولو اولسي قوانینو او عنعناتو سره سم باید دُرخانی په هغه وخت کي لا سر بایللی وای چې پاپاو خان یي له آدم خان سره د شپې په اړیکو او پر پالنګ باندي له شپو تېرولو څخه خبر سو او کله چې یي د میرمامي له کوره را وایستله نو باید چې یا یي د میرمامي د کور مخي ته او یا په خپل کلي کي سر ورڅخه پرې کړی وای. دا د اولسي مقرراتو حکم دی او له دې څخه سرغړونه ممکنه نه ده. او که څوک سرغړونه ورڅخه وکړي نو هغه په ټول قام کي په بې غیرته مشهور کیږي.
تر دې چي لا تېر سو؛ د آدم خان ملګری او د نکلونو د مختلفو روایتونو په اساس، د آدم خان د ماما زوی او اخښی ګوجرخان، د خپل پلار میرمامي په خیانت له خبرېدلو سره سم، په خپل پلار پسي آس ورځغلوي او چې هغه هر څه زاری ورته کوي دی غوږ نه وربادي نیسي او سر یي غوټ ورڅخه پرې کوي. دا خبره او صحنه یوازي د آدم خان په نکل کي ممکنه ده.
دي خبري ته هیڅ نکل چي توجه نه ده کړي چي که آدم خان د خپل مشکل د حلولو لپاره د درخانی کلي ته تللای او بیرته خپل کورته ستنېدلای سي نو د دې معنا خو دا ده چې دا دواړه کلي باید نیژدې سره پراته وي. په دې صورت کي نو آدم خان ته څه ضرورت وریښ وو چې خپله محبوبا یي په لاره کي میرمامي ته امانت سپارلې او پخپله، د ځینو روایاتو په اساس، حتی په ښکار پسي روانېدی.
له بده مرغه چې د پروفیسر نواز طایر په څیر لوی لیکوالان او څیړونکي دې حقیقت ته نه متوجه کیږی چې درخانی ، چې د نکلونو په قول د یوسفزیو د قبیلې د یوه لوی خان لور او یوه ښایسته نجلی وه، او له وړوکوالي څخه د یوه بل خان پاپاو خان په نامه وه، څرنګه یي کولای سوای چې له آدم خان سره پټ اړیکی وساتي، هغه ته پر خپل پالنګ باندی ځای ورکړي او شپې تر سهاره ورسره تیری کړی. دا کیسه زیات و کم څلور نیم سوه کاله پخوا زماني ته منسوبه ده او په هغو شرایطو کی د یوسفزیو ښځو تش د اوبو د راوړلو لپاره یوازي د شپې په تیاره کی له کوره د وتلو اجازه درلوده. د نامحرم سره د سترګو برابرولو ، خبرو کولو او مینی ښودلو خو د دواړو خواوو لپاره د مرګ معنی درلوده. د خان د لور کورته د شپې ورتلل او له هغي سره مینه کول یوازي د خیال په دنیا کی ځاییږی او یوازي د رباب نغمي وربادی شیریني کیدلای او شرنګیدلای سي.
ډاکټر بیلیو، چې د نونسمي پیړی د نیمایی په شاوخوا کي یي د یوسفزیو په باره کي تحقیقات کړي دي وایي چې یوسفزي د ښځو په برخه کي ډېر حساس دي او ډېر ژر بدګومانه کیږي. دی وایی له بېګانه نارینه سره د ښځي تش دربدل او خبري کول د هغې د وهل کېدلو او حتی وژل کېدلو سبب کېدلای سي. (بیلیو ص ۲۱۴)
الفینستون دغه ته ورته نظر لري او لا ښایي بیلیو ګټه ورڅخه اخیستي وي. الفینستون وایی د ښځو د ژوند شرایط د هغوی له اجتماعي مقام سره توپیر کوي. دی وایي د لوړو طبقو ښځي، په بشپړه توګه په پرده کي وي، مګر، د ژوند له شرایطو سره سم، ټولي اسانتیاوي او د ژوند وسایل ورته برابر وي. د غریبانو ښځي د کورونو کارونه کوي، اوبه راوړي او داسي نور. او د بیخي ټیټو طبقو ښځي له کورونو څخه دباندي له نارینه وو سره کارونه کوي. الفینستون


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

د لوړو او ټيټو طبقو د چادريو په باره کي ړغيږي او ښيي چي نارينه په هيڅ توګه د ښځو مخونه نه سي ليدلای. (الفينستون ص ص ۲۴۱-۲۴۲)

محمدحيات خان هم، د يوسفزيو د ښځو په باره کي، بيليو ته ورته نظر لري او وايی چي په دوی کي د ښځو ننګ ډېر او د پرده داری دود او رواج هم په دوی کي عام دی. هغه ښځي چي په لويو کورنيو پوري اړه لري د پردي نه پرته بهر ته وزي او د عامو خلکو ښځي که څه هم د اوبو راوړلو او نورو ضروري کارونو له کبله بهر ته ځي خو د پرديو خلکو څخه خپل مخونه پټوي. دوی زياتره اوبه ماښام يا د سهار په تياره کي راوړي. دوی په خپلو ښځو باندي ډېره پاملرنه کوي که د دوی ښځي د کوم پردي سړي سره وړغيږي نو هغه وهي او د بدکاری له امله يي وژني. (محمد حيات خان ص ۲۲۴)

## د آدم خان د ځلمي زوی درلودل:

په ملي هينداره کي، آدم خان ته د ټولو منسوبو افسانو په خلاف، د نکل په پای او د پايو خان سره د آدم خان په جنګ کي، د آدم خان د ځوان زوی يادونه کيږي چي په جنګ کي برخه ورسره اخلي.
«څه سر دي ګرځوم آدم خان او ګوجرخان، د حسن خان دوی کره راغله، بلو او ميرو او شمشال خان او اخلاص خان و خوشحال خان و تترخان او نور مته خپل خبر سوله. ځانونه يي تيارکړل. آدم خان پر مجنون آس سپور سو، بلو پر خپل آس آذر باندي سپور سو، ميرو پر خپل آس پرده سپور سو. دوی دري دمخه سول. د آدم خان زوی ميرباش او ګل جان چي د شمشال خان زوی وو، د دوی پر يوه اړخ او پر بل اړخ پر آسانو سپاره وه. د وروسته مشران او ياران پسي تلل. د کور ښځو ټولو د نارينه و کالي واغوستل. توتيا د ادم خان ماينه او مينا د ميرباش ماينه د آدم خان پر اړخ تلي. د بلوخان ماينه چي ليلو نوميده هم ورسره وه...» (نوري ص ص ۲۸۴-۸۵)
که د آدم خان د نکل دغه ډول هم په نظر کي ونيسو، نو په دې حساب بايد آدم خان د دُرخانی په بېلتانه کي لږترلږه شل کاله تېر کړي وي چي له خپلي مخکنی مېرمني توتيا څخه يي، چي په وروستي جنګ کي يي څنګ پر څنګ برخه ورسره اخيستي وه، د واده خاوند او د جنګ د ميدان جنګيالی زوی يي زېږولی او لوی کړی وي.
ما آدم خان ته په نورو منسوبو نکلونو کي د آدم خان د زوی په باره کي څه نه دي اورېدلي او د محمدګل نوري نکل ښايي يوازنی داستان وي چي د افسانې د لا رنګينولو لپاره يي د ادم خان زوی او د آدم خان د کور مېرمني هم د جنګ ميدان ته لېږلي دي. البته دلته نکل چي متوجه نه دی چي د نکل پيښي دونه په بېړه رواني دي چي د آدم خان د زوی د ځوانېدلو او د جنګ ميدان ته د تللو لپاره خو پرېږده چي د زوی د زېږېدلو لپاره وخت نه پاتيږي.
په يقين سره ويلای سم چي محمدګل نوري، د فوکلوري نکلونو د يوه هوښيار ټولونکي په حيث، په نکل کي دي خبري ته متوجه وومګر هغه چي په هر شکل نکلونه اورېدلي دي په هغه شکل يي راوړي دي. هغه د يوه شاعر او ناظم په حيث په نکلونو کي د نارو له وزن او ترتيب سره، چي کله کله ډېر ښخونده راغلي دي، هم هيڅ غرض نه دی کړی.
نو د آدم خان د نکل دي برخي ته يي هم لاس نه دی وروړی او امانت يي ساتلی دی. دی وايي چي څه يي اورېدلي دي هغه يي کټ مټ ليکلي دي:

د اميانو څخه ليکلي ما قصي دي
د مينو ښي خوږي ناري پکښي دي
دا په ډېر زيار و زحمت ما غونډي کړي
چي راغلي مي پر وچولي خولي دي
نه زيادت او نه کمبود مي پکښی کړی
د هم هغه نقل چي د خولي جملي دي
د هر قوم راز معلوميږي له قصو څخه
د هر چا هينداره خپلي افساني دي
که څوک نور څه اهميت نه ورکوينه
د تفريح او سات تيري دپاره ښي دي
که څه زيات و کم غلط درسي په سترګو
عفو غواړم ځکه دا د بل د خولي دي
محمدګل نوري له دغه فخره بس دی
لځي کړي يي د پښتو په خدمت ښي دي.
(نوري ص ۱۵۲)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

## رباب:

رباب د آدم خان او دُرخانۍ د نکل روح دی. په حقیقت کی ټول نکل د رباب په نغمو ژوندی دی. که رباب نه وي د آدم خان او درخانۍ نکل نشته.

که توره آدمه توره
چندنی رباب دي مه وهه په زوره
چي ستا د رباب ږغ سي
په درخو می اور لګیږی لور د لوره

پرته له ملي هینداري ښخه ، چي وایی آدم خان او درخانی په مسجد کی سره ولیدل او دواړه دونه ښایسته وه چي په یو ځل لیدلو یې پر یوه بل باندی زړونه بایلودل، د آدم خان او درخانۍ د نکل تقریباً نور ټول شکلونه او متنونه موږته وایی چي د آدم خان د رباب ږغ د درخانۍ په زړه کی د مینی اوربل کړ او کله چي یې پخپله آدم خان د خپل ټول ښایست سره په سترګه سو نو د مینی اور یې لا هم زور واخیست. که څه هم چي د آدم خان په نکل کی د هغه د لیوني رباب آواز یوازی یو ځل پورته کیږی ، خو دا یو ځل ږغ یې دونه لړزونکی او زورور دی چي د آدم خان او درخانۍ د نکل سره یې د رباب نوم او مفهوم د تل لپاره تړلی دی او له هغه څخه یې د ربابیانو داسی پیر جوړ کړی دی چي تر نن ورځي پوري یې قبر، یا آدم خان ته منسوب او منسوب سوی قبر، تر بل هر زیارت ورته مقدس دی. او وایي چي اوس یې د قبر سرته له ولاړي وني څخه د ربابونو لپاره شهبازونه جوړوي.

آدم خان هم خان دی، هم د جنګ د میدان پهلوان دی، هم ډیر ښه ښکاری دی، هم سخی دی او هم د ملی هینداري په روایت د اوو ولیانو مرتبه لری. « پیر اکو پیر صالح ته وویل چي آدم خان مته خیل ستا سر پرېکړی مرید دی، ډېر توریالی او زړه ور سړی دی، شاعر هم دی، ښه رباب هم وهي او ښه سړی هم دی وایی د اوو پیرانو مرتبه لري » (نوري ص ۲۵۷)

که حقیقت ته ځیر سو نو ګورو چي رباب دا ټول شیان تر خپل تاثیر لاندي راوستلي دي او حتی ملنډی یې په وهلي دي. لومړی خو لکه مخکی چي می وویل د یوه پښتون خان دپاره ، هغه هم زیات و کم ځلورنیم سوه کاله مخکی، دا غیر ممکنه وه چي رباب ته دي ګوتي وروړي. خو په نکل کی د رباب جادوګرو تارونو دا طلسم مات کړی دی او د آدم خان مته خیل په ګوتو کی یې داسی هنري زور ایښی دی چي په پردو او پوښونو کي پټي پرهیزګاري درخانی اوه شالونه غورځوی، او نه یوازي مخ لوڅوي بلکه د نامحرمو په مخ کی یې نڅوی. یو خان په یوه واده کی رباب وهي او د بل خان ښایسته لور اود بل خان سره کوزده سوې درخانی ورته ناځي.

هغه پیر صالح چي د یوسفزیو پیر دی او ملی هینداره موږ ته وایی چي آدم خان یې پخپله سر پرېکړی مرید دی، خو کله چي د رباب له شرنګ سره دهغه د قدرت او زور مسابقه پیل کیږی نو داسی بې وسه دی او داسی بې آبه کیږی چي د پښتنو په بل هیڅ فوکلوری نکل کی یې ساری نه دی لیده سوی. کله چي پیر صالح درخانی ته بلنه ورکوی چي د آدم خان د رباب شرنګ ته د باندی راووزي او ناره وربادي کوي:

نور بیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ